د افغانستان اسلامي جمهوريت
د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت اطلاعات و فرهنگ

Ministry of Information and Culture

د ويندوی دفتر

نېټه ۷/ ۹/۱۳۸٦

# مطبوعاتي اعلاميه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د پژواک خبري آژانس له خوا د مطبوعاتو د آزادئ د نړيوالې جايزې تر لاسه کول د افغانستان د ټولو ژوناليستانو او آزادو رسنيو لپاره يو ستر وياړ بولي .

پژواک خبري آژانس يوه کاميابه خبري موسسه ده چې تل يې په پوره مسلکيتوب او بې طرفئ سره د هيواد پيښې منعکسې کړې دي . ددغه آژانس خبريالان او ټول کارکوونکي چې کله په ډيرو سختو شرايطو کې خپله دنده تر سره کوي د افغانستان په ځوانو آزادو مطبوعاتو کې يې يو کامياب مثال را منځته کړی .

د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت يو وار بيا ددغه وياړ د تر لاسه کولو مبارکي خپلو ټولو هيوادوالو او په تيره بيا ګرانو ژورناليستانو ته وړاندې کوي او له مسوولو او مسلکي رسنيو څخه خپل کلک ملاتړ اعلانوي .

غازي محمد جان واټ کابل افغانستان ۰۷۰ ۹۸۹ ٦۹٦ Email:hameednasry@gmail.com
www.moic.gov.af